آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۲/۰۱

# لارورکي لارويان

## دري ديرشمه برخه

## نا ليدلې، نا پيژندلې لارې

### د پراګ طبعي ښکلا او د زندان سختي:

دري ورځې وروسته يې د جرمني په يوه پوسته کې چکانو ته وسپارلو. دا سرحدي پوسته د يوې ښکلې تپې په ښکتنۍ برخه کې جوړه شوې وه. کومه کوټه کې چې موږ په کې اچول شوي وو، د بنديخانې په څېر يې پنجرې درلودې، د پنجرو نه لرې ورانديې د خلکو کورونه ښکاريدل، تپه په ونو پوښلې وه او د ونو پاڼې ټولې ژيړې شوې وې.

دا مهال مازديګر و، ژيړی لمر د ژيړو پاڼو پر ښکلا يوه بله اضافه وه. زړه مې غوښتل چې آزاد مارغه شم، د تپې ونو ته ور والوزم، د ژيړو پاڼو سره يو وار کينم، د سترې زړه کيسه ور ته تيره کړم خو...

هيڅ چا بل چا سره کار نه درلود، حتی هغه ښاروي چې زموږ له نظره دښمنان وو، هغوی هم يو بل ته څه نه ويل. د تپې د ونو له منځ نه يو کندک غرڅې مخ په ښکته را رواني وې. زموږ د بنديخانې نه لرې وړاندې يوه ښکلې مانۍ ولاړه وه، يو ليوه ډولی غټ سپی له مانۍ نه ګرد چاپيره ګرځيده، ما فکر وکړ چې سپی به اوس غرڅو ته غاپي او حمله به ور باندې کوي، کتل مې چې غرڅې په نخرو او کرشمو را ښکته شوې او د سپي له څنګه تيرې شوې.

د دې صحنې په ليدلو سره سړي داسې انګيرله چې سپی او غرڅې له پخوا نه سره دوستان وو. زما په زړه کې په ډيره نا اميدی تير شول چې د دوی حتی ښاروي چې په څلورې روان دي، هم تفاهم او پوهاوي ته رسيدلي دي او خپلمنځي ستونزې نه لري؛ خو زموږ د وطن ځينې انسانان چې په دوو پښو روان دي او ځان ته اشرف المخلوقات هم وايي، خو بيا له دړونکو ښارويو نه لا زيات د نورو وينو تويولو شوقمن او تږي دي اوهره شيبه يو د بل مرګ ته چمتو او لاس په ماشه دي.

زه لا د همدې ښکلي او غمجنې ننداري په ليدلو لګيا وم چې د فکر لړی مې د يوه موټر راتګ وشلوله، ښکلی موټر زموږ د پنجرې نه لرې وړاندې ودريد، لکه ناوې پاکه ستره، ځوانه ميرمن ور نه ښکته شوه، پرته له دې چې کومې بلې خوا ته پام وکړي، په ودانۍ ور ننوته.

د خيال ميرمنې له راتګ سره سم بيا غوښتل، غوښتل پيل شول. څنګه چې د ليست په پيل کې زما نوم و، څکه يې لومړی زه ور وغوښتلم. کله چې يې د پوښتنو کوټې ته بوتلم، که ګورم چې د خيال ميرمن زموږ مستنطقه ده.

زه چې په ډيره تنکسه کې وم او هر ښه او بد را باندې ښه نه تماميدل، ترېو تندی ودريدم، د خيال ميرمنې په ځانګړي خيال سره سلام وکړ او له يوې خوږې موسکا سره يو ځای يې د ناستې ست را ته وکړ. بلې خوا ته ژباړن ناست و. له کيناستو سره ميرمنې په ډيره نرمه او مهربانه ژبه را ته و ويل:

ډيره خواشينې يم چې څه مرسته نه شم در سره کولای، تاسو د جرمني او چک جمهوريت له قوانينو سره سم، د چک پوليسو ته سپارل شوي ياست او...

يو کاغذ يې زما مخې ته کيښود چې لاسليک يې کړم، زه نه پوهيدم چې په کاغذ کې څه ليکل شوي دي. ژباړن د کاغذ محتويات څه نا څه را ته و ژباړل، خو ما غوږ ور باندې و نه ګراوه، په زړه کې مې ويل چې هسې يې هم را باندې امضا کوي، نو پوهيدو او نه پوهيدو ته يې څه حاجت دی، بيا مې داسې ور لاسليک کړ چې د دويم ځل له پاره به هغه امضا هيڅکله و نه شم کړای، پيره دار بيرته خپلې کوټې ته بوتلم.

زموږ په ډله کې يوه کورنۍ (ميره، ښځه، درې ماشومان) هم وه، هغوی په چک کې وخت تير کړی و او يو څه يې له قوانينو سره بلدتيا درلوده. هغوی موږ ته و ويل چې د سرحدي مراحلو له بشپړيدو وروسته تاسو يو زندان ته ليږدوي. هلته به يو څو ورځې تيروئ، بيا به ځانګړي فورمې ډکوئ چې کوم کلينک ته مو د معايناتو له پاره ليږي، هغه هم د بنديخانې په څير ده، له هغه ځايه مو د مهاجرينو کمپ ته ليږي او اسناد درکوي؛ بيا نو کولای شئ چې آزاد وګرځئ او په چک جمهوريت کې هرې خوا ته ولاړ شئ.

دې کورنۍ يو کال مخکې دغه لړۍ تيره کړې وه. د چک د مهاجرينو د اداري کارتونه ور سره وو، کله چې يې نوبت ورسيد، کارتونه يې ورکړل او ورته وې ويل چې د ريل ګاډي تم ځي ته ولاړ شئ او د چک په لوري حرکت وکړئ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پاتي ټول مسافرین یي یونیفورم والا چکي پولیسو ته وسپارل، هغوی هم خپله وطني تباره په مسافرینو تیزه کړه، په بس کي یي کینول او د زندان په لوري یي وخوځول.
موټر ښایسته ډېره لار و وهله، له ښاره و وت او د کروندو پر واټ ور سیخ شو. د کروندو په منځ کي تور واټ لکه تور ښامار اوږد غځیدلی و. تپي او کروندي، تپي او کروندي، ښکاریده چي موټر مخ په بره روان دی او په تپو ور خیژي، ښه مخ پورته لاړ او بیا مخ په ځوړ روان شو.
زندان د تپو د منځ په یوه ژور ځای کي جوړ شوی وو، تا به ویل چي دي پنځو تپو زندان محاصره کړی دی. لکه د الفت صاحب «خیرات» کي چي د ړانده او شل برخه په کي نه وه؛ دغسي دا سیمه هم ښه شاعرانه سیمه وه، خو افسوس چي په هغي ښکلي سیمه کي زموږ له پاره زندان په انتظار کي و.
دا زندان په شرقي اروپا کي په هغو زندانونو کي یو زندان و چي ټول مصارف یي د جرمني دولت یا اروپایي اتحادیي له خوا ورکول کیدل. د جرمني دولت یا اروپایي اتحادیي د چک، پولند او سلواک له دولتونو سره تړون کړی و چي یاد هیوادونه مکلفیت لري چي د غیرقانوني مهاجرینو مخه به نیسي، د جرمني په لوري به یي تیریدو ته نه پرېږدي.
که چیري دغه ډول غیرقانوني خلک په چک، سلواک او پولند کي نیول کیږي، دوی به یي توقیفوي، زندانونو ته به یي اچوي او مصارف به یي ټول د جرمني دولت یا اروپایي اتحادیي له خوا ورکول کیږي. دا مهاجرین به د قانوني مراحلو له تیرولو نه وروسته یا په همغو هیوادونو کي د مهاجر په صفت منل کیږي او یا به له راغلو هیوادونو څخه بیرته هغه لوري ته دیپورت کیږي.
کله چي موټر د زندان دروازي ته ورسید، د دروازي پر سر د جرمني بیرغ را زوړند و او د یوه مارغه نښان د دروازي په بل اړخ لګیدلی و. دروازه بیرته شوه، موټر د زندان انګړ ته ور ننوت. د زندان له پیره دارانو، کلکو پنجرو، ازغنو سیمانو او بندوبست نه داسي ښکاریدل چي د سلواک له زندان نه د دې زندان شرایط ډېر سخت او قیودات یي ډېر دي.
نورو بندیانو د پنجرو له شا نه زموږ ننداره کوله. د دوی په لیدلو انسان داسي انګیرله چي دا ټول ستر خاینین او قاتلان دي چي د کړي ګناه په تور د پنجرو شا ته لکه د ماتو او تپي زمریانو په څیر پټه خوله پراته دي، یوازي د مجبوریت سترګي غړوي او بس.
د زندان ټولي ودانۍ یو په بل پوري نښتي وې، موږ یي د یوې ودانۍ پاسني پوړ ته جګ کړو، په یوه دهلیز کي یي ودرولو، توري پلاستیکي خلطي یي راکړې. ساتونکو ویل جامي مو وباسئ او د لمبلوځای ته ننوزئ، خو موږ د دوی په ژبه نه پوهیدو. بیا یي به اشارو پوه کړو چي کالي وباسئ. موږ ټول کالي وایستل او په یوه نیکر کي ودریدو، بیا ساتونکي څه و ویل، خو موږ په ټکي هم نه پوهیدو. زموږ له ډلي نه کوم یوه خپلي ژبي ته لاس ونیوه او بیا یي لاس ور ته وښوراوه چي په ژبه دې نه پوهیږو. ساتونکی راغی او د همدې اشاره کونکي نیکر یي ښکته وښویاوه. بس د زور کار و، لوڅ لپړ په تشنابونو ننوتو او لمبل مو پیل کړل. موږ له خپلو لوڅو ځانونو شرمیدلو، خو ساتونکو موږ پوري خندل.
ځانونه مو پریولل او د زندان جامي مو واغوستي. کوټي مخکي له مخکي ټاکل شوې وې، ساتونکي راغلل او هرڅوک یي خپلو کوټو ته بوتلل او دروازې یي را پسي کلپ کړې. موږ پوره ستړي او وږي وو، خو نه آرام و او نه خوراک.
زما کټ د پنجرې په څنګ کي پروت و، اوږد وغځیدم او خپل ځان مي د ښامار تر ژامي لاندي بیاموند. ځرت مي واهه، هره خوا تیاره وه، د ذهن په دهلیزونو کي مي د رڼا څرک شانتي هم نه لګیده. له یوه زندان نه و وزه، په بل ننوزه، دا به تر څو پورې داسي وي، نه جُرم، نه جنایت، نه کوم خیانت، نه د چا وژنه یا لوټ، خو ځای دې په زندان کي دی.
پنجرې ته مي ښه په ځیر، ځیر کتل چي نا څاپه ور سره په خبرو شوم او ورته و مي ویل:

**تر څو به په ما پسي یي، هر چیرې چي ځم ته مي مخي ته راځي، ولي مي نه پرېږدې، ما خو ستا خوب هم نه لیده اوس مي هر چیرې هرکلی کوې، داپه څه او...**
**پنجره کټ ـ کټ په خندا شوه ، وې ویلی:**
**چیرته را نه خلاصیدی شي، ستا اصلي ځای همدغه دی.**
**تاسو افغانانو خپل وطن وران کړی دی،**
**ستاسو په وطن کی څومره خلک وژل شوي دي؟**
**څومره وینې تویې شوې دي؟**
**څومره با عزته خلک بی عزته شوې دي؟**
**څومره خلک بی کوره، بی اوره، بی پلاره، بی موره او بی ژونده شوي دي؟**
**هر یو مو چی دلته راځي وایي چی ما څه نه دي کړي، دا ټول چا وکړل؟ ځواب راکړه؟**

ما د پنجرې پوښتنو ته کوم ځواب نه درلود، ځکه مي مخ ترې واړاوه او خبرې مي و رسره غوڅې کړې. ښه مي چې پام وکړ، که ګورم ځان سره لګیا یم، پنجره ګونګې وه، وچه کلکه ولاړه وه او خپله دنده یې تر سره کوله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سبا ته يې زه فضل، يو پکتيا وال زلمی او يو پنجشيری زلمی چې اوس يې نومونه له ما نه هېر دي، دريم پوړ ته وخيژولو، څلور واړه يې په يوه کوټه کې بنديان کړو. کمود هم دننه په کوټه کې و. د کوټې د دروازې په منځوی برخه کې يو دايروي سوری و، د ډوډی په وخت کې يې هم دروازه نه خلاصوله، ډوډی به يې له همدې سوري نه د دروازې شا ته ته پرايښودل شوي ميز را پورې وهله. فکر مې کاوه چې دا کوم هنري فلم دی، زه هيرو يم او بدماشانو بندي کړی يم.
زموږ د کوټې کړکی د تفريح ځای په لوري خلاصه وه. موږ ليدل چې يوه ډله بنديان زوړند کالي، ببر ويښتان، زيړ زبيښلي له کومې ودانی را ويستل شول، که ګورم د سلواک د زندان ځيني کسان هم په کې وو. زه نه پوهيدم چې د څو پنجرو تر شا بندي يم، کله چې د دروازو او پنجرو د خلاصولو غږ ځوړ شو، نو زموږ دروازه هم خلاصه شوه، ساتونکو د وتلو اشاره وکړه، زموږ پر شونډو ايله موسکا خپره شوه.
په تفريح ځای کې بنديانو ژړ، ژړ يو له بل سره خبرې کولې يو بل ته يې د څو تيرو شويو ورځو حال ويلو چې راتلونکې کې څه وکړي، که کومه پوښتنه يا انترويو په مخ کې وي، څه بايد و ويل شي.
زندان په ډير تيټ ځای کې جوړ شوی و، ما پاس د تپو ننداره کوله، فکر مې کاوه چې په کومه ځاه کې ناست يم.
په زندان کې زموږ نه (۹) شپې ورځې تيرې شوې، ښه له ستونزو ډک زندان و، د سلواک په زندان مو شکرونه ايستل. هلته په اونی کې دوه ورځې حمام، د ړيرې رخيلو امکانات، تشنابونه له کوټو نه ښه لرې پاک او هره اونی کې د جامو بدلول.
د چک (پراګ) په زندان کې د نورو ستونزو او بديو تر څنګ لويه ستونزه دا وه چې لکه د ټوپکيانو واکمني ځان پريولل اوږيره رخيل په کې منع وو، جامې بدلولو باندې بنديز لګيدلی و او تر ټولو سخته او بده يې لا دا چې کمود په کوټه کې دننه، د کوټې په يو کونج کې ايښودل شوی و، د ساتونکو چلند يې کاملاً غير انساني او زشت و، داسې به يې بد، بد کتل، ته وا موږ د چا د وژلو په تور کې دلته را وستل شوي يو. ما چې د هرې ورځې پيښې په هماغې ورځې ليکلې، د کاغذ د نشتوالي له ستونزې سره مخ وم، له ما سره افغانان په دې ستونزه پوهيدل. يوه ورځ يې د تفريح له پاره د باندې ځای ته ايستلي وو، د تفريح ځای له پنجرې نه د باندې يو ټوټه باران وهلی کاغذ پروت و، زموږ د ډلې کوم تن غوښتل چې دا کاغذ زما له پاره را جګ کړي، لاس يې له پنجرې د باندې وغځاوه چې کاغذ را واخلي، ساتونکی راغی او له عسکري بوټو سره د هغه پر لاس وخوت او بيا وغوريده، له تونډې لهجې يې مالوميده چې ښکنځلې کوي.
بله ورځ بيا د تفريح په وخت کې نورو افغان بنديانو چې له موږ نه پخوا زندان ته راوستل شوي وو، له موږ نه پوښتنه وکړه چې تاسو ته يې کاغذونه، فورمې څه شی نه دي درکړي؟
موږ ويل نه داسې څه خو نه دي شوي. هغوی موږ ته لارښوونه وکړه چې ژر او له همدې شيبې د ډوډی د نه خوړلو اعتصاب پيل کړئ، دوی خپله فورمې در ته راوړي، هغه در باندې لاسليک کوي، بيا مو له زندان نه باسي.
موږ هم پرنسونو درنې تيرې واړولې، دوې ورځې مو څه و نه خوړل. ساتونکو ډکې کاسې بيرته وړلې، يوه ورځ چې ساتونکو ډکې کاسې بيرته وړې، په ډونګيدو يې له سوري نه کاسې داسې کشولې لکه په قهر کې چې موږ ته ښکنځلې را ډالی کوي، ما ته د کاتب پاخون يو نظم را په ياد شو. کاتب پاخون چې هغه وخت يې رنځور تخلص کاوه، کومه شپه زموږ په پلرنې کور کې زموږ ميلمه و، د شپې له خوا مو د ښو ډيرو مرکو تر څنګه تر ناوخته خپله درنه او د نورو سپکه ويله، سهار ټول ويښ شول، خو کاتب صاحب له شور ځوږ او ټوکو سره، سره را ويښ نه شو. د سهار چای وځکل شو، هر څه مو ټول کړل، د پيالو او قابونو له کړپ کړوپ سره يې، سر را جګ کړ، له ما نه يې پوښتنه وکړه: زما برخه چيرې ده؟
ما و ويل:
هر څه خلاص دي، نس پورې دې تيرې وتړه.
بيا يې په خواره خوله را ته و ويل:
يو قلم او کاغذ خو به وي، هغه راکړه.
ما قلم او کاغذ ورکړ، ده يو اوږد نظم وليکه چې تر اوسه يې هم زما دغه بيتونه په ياد دي:

«چې پيالې تقسيمېدلې زه ويده وم

ډکې تلې تشې راتللې زه ويده وم

دويدو برخه د ويښو په نصيب ده

زما برخې يې لوټلې زه ويده وم...»


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ما چي د زندان ډکو کاسو او خپل تش نس ته کتل، قهر لړلي خندا به راغله، خو هيڅ مي له لاسه نه کيدل. ډير شيان به مي د ليکلو له پاره درلودل، خو کاغذ به نه و چي غمرازي را سره وکړي، زما ذهن ته راغلي ميلمانه به بيرته مرور شول او تري تم به شول، بيا مي د ليکل شوو کاغذونو په حاشيه کي لږ سپين ځای تر سترګو شو او د کاسو راوړلو او بيرته وړلوحالت مي د کاتب صاحب د نظم په اقتفا داسي انځورکړ:

چي کاسي به يي راوړلي ما کتلي

ډکي وې بيا ډکي تللي ما کتلي

د قارجن د مهاجر برخه د لوټ ده

چي ډيران تـه يي اچولي ما کتلي

دوي ورځي وروسته يوه ميرمن راغله، ور يي پرانست، د نه خوړلو وجه يي وپوښتله، څه فورمو غوندي کاغذونه يي راوړل او وې ويل دا ستاسو د خلاصيدو پاڼي دي، موږ هم لاسليک کړلي، د هغي ورځي په سبا يي له زندان نه و ايستلو او د قرنتين په نامه کوم ځای ته يي وليږلو.

**بيا هغه ورځ راغله چي په يو بس کي يي کينولو. موټر د زندان له دروازې و وت، ورو، ورو مخ په بره روان شو، د ټپي سر ته چي وخوت، له هماغه ځای نه مي يو وار بيا زندان ته وکتل، له پاسه د زندان پنجرې او ازغن سيمان نه ښکاريدل، ودانۍ د ټپو په منځ ښه منظره جوړه کړې وه، تا به ويل کوم تفريحي ځای دی، سترګي مي اوښلني شوې او مخ مي ځيني واړاوه.**

بيا په کرونده کي پر اوږده راغځيدلي واټ باندې ور وخوځيدو. کلی، کور، ښار، بازار او خلک نه ښکاريدل. دلاروکو لارويانو دي سرګرداني ډلي اوس هم ځان آزاد نه احساساوه، ټول په خيالونو کي ډوب وو، له کړکۍ نه يي د باندې کتل او د راتلونکي نامالوم برخليک په باب يي فکر کاوه.
موټر ودريد او زموږ د نه غړيدا او نه تماميدونکو چرتونو لړۍ يي وشلوله، ښکته شوو، يو لوی انګړ ته يي ننه ايستو. بيا مو په پنجرو او ازغونسيمانو کي ځان ايسار وليد. د بيلابيلو هيوادونو سرګردانه مسافر ښکته پورته کيدل، د نورو مهاجرينو په منځ کي افغانان له ورايه پيژندل کيدل، چا د لاس په جګولو، چا د سر په اشاره او چا په ژبه احترام او هر کلی وکړ.
دلته هم هماغه پخوانۍ ترنني پيل شو:
د کوم ځای يې؟
څنګه راغلې؟
ولي راغلې؟
چاسره راغلې او...
يوه ميرمن په يوه کوټه کي ناسته وه، پوه نه شوم چي پوليسه وه که د مهاجرينو د کمپ کومه ملکي ماموره، يو، يو يي ور غوښتلو او پوښتني يي کولي. ژباړن يو افغان زلمی و، خو روزګار په ځوانۍ کي د زړبودۍ ډالۍ ورکړې وه. په سر کي يي له تورو وينتانو سپين ډير وو. زما سر او ږيره په زندان کي دومره ببر شوې وو چي سم څناور رانه جوړ و او نه پيژندل کيدم. ښځي لږ ځان را نه لرې وڅښاوه، حتمآ به زما ځان بوی کاوه، په دې چي په شپو، شپو مي ځان نه وپريولی.
ښځي د بشپړ شهرت، کار و بار، زده کړو او... پوښتني پيل کړې. زه چي نور له دغو پوښتنو نه پوره ستړی شوی وم، په ستړيا او خواشيني مي د خپل شهرت ځيني ټکي بيانول، ما لا دا لړۍ نه وه بشپړه کړې چي ژباړن مي نيغ مخي ته ودريد، مسکی شو، لاس يي راکړ او وې ويل:
استاده ستړی مه شي، زه پلانکی يم، د تاج محمد ياري وراره...
ما چي د ده موسکا او صميميت وليدل، په ځير مي ور ته وکتل او د ګران دوست تاج محمد ياري هغه وړوکی وراره مي بيا وليد چي د لومړي ځل له پاره مي د ياري صاحب په کور کي، د کابل په ټايمني کي ليدلی و، نو ناڅا په مي ترخولي و وتل:
وای هلکه ته ولي دومره سپين ږيری شوی يي، زندانونه موږ تيروو او د تشويش له لاسه ستا سرسپين شوی دی، ښه خير (...زما که عمر په ضروروي تير به شينه)،
ته جوړ يي؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ياري صاحب چيرې دی؟
ده سمدلاسه و ويل:
هغه په عربستان کې ژوند کوي. ما ورته و ويل اصل ځای ته يې ځای رسولای دی او...
په دې کې ښځې مداخله وکړه، زموږ خبرې يې غوږ کړې او نورې پوښتنې يې پيل کړې.
کوټې چې له پخوا نه د هر يو له پاره په نښه شوې وې، ورغلو. بيا مو چې د تشتاب او لمبلو امکانات وليدل، ځانونو څخه مو لږ څه انسانان جوړکړل.

«چې پيالې تقسيمېدلې زه ويده وم

ډکې تلې تشې راتللې زه ويده وم

دويدو برخه د ويښو په نصيب ده

زما برخې يې لوټلې زه ويده وم...»

د درې ديرشمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ